# د اسلام له نظره د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو ارزښت!

لیکنه: استاد مطیع الله هدایت.

په دې لیکنه کې یوازې په تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو بحث کوو، تر څو مالومه شي چې یادې زده کړې په اسلام کې کوم مقام او ارزښت لري؟

درنو لوستونکو: ښکاره ده چې اسلام یو داسې نظام دی چې په دنیایي ژوند ټولې برخې پکې شاملې دي، سره له دې مور دلته یوازې د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو په اړه بحث کوو، د دې بحث لپاره مور د انبیاوو سیرت، د اسلام تاریخ، د مسلمانانو اختراعاتو ته کتنه کړې، چې په مختصر ډول خپل دید له تاسو معززو لوستونکو سره شریکوو:

حضرت آدم (علیه السلام) د خپلې اصلي دندې تر څنګ د کعبې ودانۍ جوړه کړې، چې همدا چاره اوس مسلکي انجنیران مخ ته وړي، علامه ابن حجر رحمه الله له امام بیهقي (رحمه الله) څخه روایت نقل کوي، وایي: کله چې حضرت ادم (علیه السلام) ځمکې ته واستول شو، الله (جل جلاله) ورته حضرت جبرائیل امین (علیه السلام) را ولیږو تر څو کعبه ودانه کړي، کله یې چې کعبه جوړه کړه ورته وویل شول چې ته لومړی انسان یې او دا لومړی کور دی چې د خلکو د عبادت لپاره ټاکل شوی دی. (فتح الباري۴۸۷/٦) دارنګه د حضرت ابراهیم (علیه السلام) لخوا د کعبې جوړښت او د هغه د انجنیرۍ او مهندیسۍ مهارتونه هم مشهور دي.

حضرت نوح (علیه السلام) د اوږده دعوت په څنګ کې د تخنیک په برخه کې یوه لویه کښتۍ جوړه کړه، چې په قران کریم سورت (النوح: ۵-٦) او سورت (المؤمنون:۲٦)، (سورت هود: ۳۷) آیتونو کې یې یادونه شوې ده. حضرت نوح (علیه السلام) داسې کښتۍ جوړه کړه، چې له ده مخکې چا نه وه جوړه کړې او نه هم دا فکر له چا سره وو چې د لرګي څخه دې داسې یوه کښتۍ جوړه شي چې د ډیرو خلکو د نجات سبب شي، حضرت نوح (علیه االسلام) خپله کښتۍ په داسې وخت کې جوړه کړه چې په هغه وخت کې د کښتۍ په نوم صنعت چا نه پیژندو.

حضرت داود (علیه السلام) ته الله جل جلاله پخپل فضل سره د زغرو جوړولو مهارتونه ور په برخه کړي و، چې په قران کریم کې یې په (سورت الانبیآء: ۷۹-۸۰) او (سورت السباء: ۹-۱۰) آیتونو کې یادونه کیږي. امام القرطبي رحمه الله پخپل تفسیر کې د حضرت داود علیه السلام د زغرو د کسب د زده کړې او پیل په اړه یوه کیسه را اخیستې چې په وروستۍ برخه کې یې راغي: حضرت (داود علیه السلام) به د ورځې یا شپې په یوه برخه کې مکمله زغره جوړوله چې د هغې ارزښت او بیه به زر درهمه وه. په دې کسب کې یې زیاته شتمني ترلاسه کړه، او ښه شتمن شو، مسکینانو اوغریبانو ته به یې خیراتونه هم ورکول او ویل کیږي، چې حضرت داود (علیه السلام) لومړی کس دی چې زغري جوړول یې پیل کړي دي.

د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) سیرت مبارک ته که مراجعه وشي، د خندق په غزوه کې د خندق کېندلو طرحه او نقشه وکتل شي، د خیبر په غزا کې د منجنیق او ډالونو جوړښت باندې فکر وشي، د زغرو، غیشو جوړول، د بدر د غزوې لسګونه بندیانو آزادي د تعلیم په مقابل کې او د الله جل جلاله په مرسته د لویو لویو امپراطوریو فتحې چې تخنیک او مسلک پکې ځانګړی رول لوبولی ښې بیلګې دي.

په وروستیو پېړیو کې هم موږ د اسلامي نړۍ د علماو اختراعات د بیلګو په توګه وړاندې کولای شو لکه: لمړنۍ جراحي چې د مسلمان ډاکټرالظهراوي لخوا په ۱۰۰۰ م کال کې ترسره شوې او د جراحۍ د اصولو په اړه د همده لخوا لوی کتاب لیکل شوی وو چې (۱۵۰۰) پاڼې یې درلودلې، او په اروپا کې تر (۵۰۰) کلونو پورې د یوه مأخذ په توګه خلکو ترې استفاده کوله. علامه محمد بن موسی لمړنی کس دی چې الجبر یې را منځ ته کړ او داسې نور ډیر اسلامي علما او فیلیسوفان شته چې بیلابیل اختراعات یې کړي.

پایله: له پورتنیو مالوماتو جوتیږي چې تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړې په اسلام کې ځانګړی مقام او ارزښت لري، یوه ټولنه هغه وخت د پرمختګ په پوړ قدمونه ږدي چې وګړي یې د دیني زده کړو تر څنګ د بازار د غوښتنو سره سم تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړې په ښه شکل ترسره کړي، په دې سره بیا د کار زمینه برابره او د فقر سره مبارزه رامنځ ته کېږي، چې دې ته بیا د ټولنې د بریا راز هم ویلای شو.

۱۴۴۴/۵/۱۷

کابل افغانستان